د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

یکشنبه ۷ محرم ۱۴۳۹هـ | ۱۶-۰۹-۲۰۱۷م | ګڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۰۶

## مطبوعاتي اعلاميه

# ﴿إِنَّالله وَإِنَّاإِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾

موږ د الله سبحانه وتعالی یو او د هغه لوري ته ورګرځو.

د الله سبحانه وتعالی پر قضا په پوره او راسخ باور د حزب‌التحریر- ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر، د محترم ورور مرحوم عبدالغیاث د وفات له امله د هغه درنې کورنۍ ته تسلیت وایو او د الله متعال له درباره ورته جمیل صبر او عظیم اجر غواړو.

زموږ ګران ورور او مخلص دعوتګر عبدالغیاث ۴۳ کلن و، چې د خپل عمر ۸ کاله یې په حزب التحریر کې په دعوت کې تېر کړي وو. نوموړي د روان کال د سنبلې په ۲۲مه د پنجشنبې په ورځ په یوه ترافیکي پېښه کې د اجل داعي ته لبیک ووایه. الله سبحانه وتعالی ته د هغه لپاره د مغفرت او فردوس جنت دعا کوو.

عبدالغیاث ورور یو فعال دعوتګر و، چې د دعوت په لاره کې یې ډېرې ستونزې وګاللې او د راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره یې په پوره ثبات او ډاډ خپلې مبارزې ته دوام ورکړ.

هغه په افغانستان کې د حزب التحریر د دعوت یوه مهمه سرمایه وه، په حقیقت کې موږ د ده نشت احساسوو او الله سبحانه وتعالی ته دعا کوو، چې د ده نېک اعمال په خپل دربار کې قبول او نوموړي ته د جنت په روضو کې ځای ورکړي.

﴿وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ * الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾ [بقره:۱۵۵-۱۵۷]

صابرانو ته زیری ورکړه، هغه کسان چې کله کوم مصیبت ورورسېږي، نو وایي: موږ د الله یو او د هغه لوري ته ورګرځو.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**